- ❖ له بدو خبرو یوازیتوب ښه دی او له یوازیتوب څخه د علماوو مجلس ښه دی.
- ❖ غوره جهاد د ظالم پر وړاندې حق ویل وي.
- ❖ د ایمان پوره والی په جهاد کې دی.
- ❖ خلک له حق څخه وپېژنئ؛ نه حق له خلکو.
- ❖ د مظلوم له اه څخه ځان ساتل غوره عبادت دی.
- ❖ د انسان بهادري دا ده چې خپله غوسه کنټرول کړي.
- ❖ د عالمانو خربوالی او ګمراهي د یو قوم د هلاکت سبب ګرځي.
- ❖ له اخلاص پرته علم هیڅ ګټه نه لري.
- ❖ سر لوړي په تقوی کې ده.
- ❖ اخلاص دېته وایي چې انسان د خپلو اعمالو بدله ونه غواړي.
- ❖ د مصیبت په وخت کې صبر کوم تاوان او ژړا کومه ګټه نه لري.
- ❖ کوم قوم چې جهاد پرېږدي هغه قوم ذلیله کېږي.
- ❖ عاجزي او خاکساري له عادي خلکو سره ښه ښکاري، خو د مشرانو او امیرانو لپاره سره زر ده.
- ❖ که یو ځوان ګناه وکړي بده ده، خو که یو بوډا ګناه وکړي، ډېره بده ده.
- ❖ ښه اخلاق د ښه مؤمن صفت دی.

**د عمر فاروق رضی اللّٰه عنه ویناوې:**

- ❖ مخکې له دې چې د قوم مشران شئ، پوهه ترلاسه کړئ!.
- ❖ هوښیار سړی هرڅه ته په کتلو عبرت حاصلوي.
- ❖ ډېره خندا کول له مرګ څخه د غفلت نښه ده.
- ❖ کمې خبرې کول حکمت دی.
- ❖ لږ خوب عبادت دی.
- ❖ لږ خوراک صحت دی.
- ❖ ادب بهترین کمال دی.

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



❖ له دښمنانو سره هم په خپلو وعدو وفا وکړئ!.

❖ څوک چې ډېرې ټوکې او د خندا خبرې کوي، د هغه کس عزت او ارزښت کمېږي.

❖ د بدۍ په بدل کې نيکي کول غوره احسان دی.

❖ له هغو خلکو سره مشوره وکړئ! چې له الله جل جلاله څخه وېرېږي.

❖ د الله جل جلاله له توفيق او مرستې پرته هر نيک کار ناممکن دی.

❖ مسلمان په لمونځ او روژه نه پېژندل کېږي ، بلکې په معاملاتو پېژندل کېږي.

❖ پوهه او علم په عمر پورې تړاوو نه لري، بلکې د الله جل جلاله پيرزوينه ده، چې چاته يې خوښه شي ورکوي يې.

❖ داسې کارونه کوئ چې خلک مو ووينې خجالت نه شئ!.

❖ ډېره خندا کول ژوند لنډوي.

❖ د ظالم بښل له مظلومانو سره زياتی دی.

❖ څوک چې بد نه پېژني، هغه پکې مبتلا کېږي.

❖ عدل د مظلوم لپاره جنت او د ظالم لپاره دوزخ دی.

❖ مرگ يادول غوره نصيحت دی.

❖ مخاطب په ښه نوم يادول د مينې او محبت په زياتولو کې مرسته کوي.

❖ څوک چې ځانته عالم وايي، هغه جاهل دی.

❖ ډېر پورونه مه اخلئ!، ترڅو مو ژوند ارام تېر شي.

❖ د بد اخلاقه انسان له دوستۍ څخه ځان وساتئ!.

❖ څوک چې زمونږ عيبونه را ښايي، الله جل جلاله دې پرې رحم وکړي.

**د عثمان رضي الله عنه ويناوې:**

❖ الله جل جلاله حاضر گڼل غوره ايمان دی.

❖ هغه خلک چې د غريب پوښتنه کوي، له کبر څخه خالي دي.

❖ کله چې ژبه اصلاح شي، زړه په خپله اصلاح کېږي.



❖ د نعمت بې ځايه مصرف ناشکرې ده.

❖ که د الله جل جلاله لويي او عظمت نه بيانوي، نو د هغه پيدا کړي نعمتونه مه استعمالوه.

❖ د هغه چا په حالت افسوس کوم چې په جنت ايمان لري، خو بيا هم ځان په دنيا کې ارام محسوسوي.

❖ غوسه له ناپوهۍ څخه شروع کېږي او په پښېمانۍ پای ته رسېږي.

❖ چوپتيا د غوسې غوره درملنه ده.

❖ په کوم علم چې عمل ونه شي هغه فقط د وخت مصرفول دي.

❖ د نيکو اخلاقو ثمره خوشحالي ده.

**د علي رضی الله عنه ويناوې:**

❖ په هغه غريبۍ شکر اداء کړه چې عزت دې پکې خوندي وي، دا له هغه اميرۍ او مشرۍ څخه غوره ده، په کوم چې ذلت او رسوايي وي.

❖ هغه څوک چې ريښتيني مينه درسره لري، هغه تا له بېکاره کارونو څخه ژغوري.

❖ خوشبخته به د اخرت غم خوري او بد بخته به د دنيا غم خوري.

❖ کله چې عقل پوره شي، نو خبرې کمې شي.

❖ د زړه تر ټولو لوی مرض حسد دی.

❖ د نورو په حال سوچ کول د ځان لپاره نصيحت دی.

❖ نيکي کوه؛ نيکې به ووينې.

❖ د ژوند هره ورځ اخري ورځ وگڼه.

❖ زغم زينت، وفا ځوانمردي او اړيکې ساتل نعمت دی.

❖ د مشرانو احترام په دې خاطر کوم چې د هغوی نيکې له ما څخه زياته ده او په کشرانو ځکه شفقت کوم چې د هغوی گناهونه له ما څخه کم دي.

❖ ماته په گل او مور کې هېڅ فرق نه ښکاري.

❖ په گناه د شرم احساس انسان له گناه څخه ساتي.

ketabton.com - The Digital Library



❖ په نیکۍ غرور کول نیکي له منځه وړي.
❖ د انسان وړتیا د هغه د ژبې لاندې پټه وي.
❖ بهادر انسان هغه دی چې له ګناهونو څخه پاک وي.
❖ په خپله ځوانۍ او قوت ونه غولېږئ، ځکه دا ژر پناه کېدونکي شیان دي.
❖ عبادت کول غوره سرمایه ده.
❖ د بیړې او تلوار نتیجه پښېماني ده.
❖ غریب هغه دی چې دوستان ونه لري.
❖ د ناپوه انسان چوپتیا د هغه د عیبونو پرده ده.
❖ مخکې له دې چې بوډا شې؛ علم ترلاسه کړه.
❖ که غلامي عیب نه شي، نو بیا هېڅ شی عیب نه دی.
❖ علم یو بې زواله دولت دی.
❖ د علم طلب له نفل لمونځ څخه غوره دی.
❖ غوره علم هغه دی چې تاسې اصلاح کړي.
❖ که غواړې چې سردار (لوی سړی) شې، نو د بدۍ په مقابل کې نیکې کوه.
❖ د هر چا د ایمان معلومات د هغه له وعدو څخه کېږي.
❖ مؤمن نرم خویه او له تکبر څخه خالي وي.
❖ په دنیا کې تر ټول سخت کار د خپل ځان اصلاح کول دي او تر ټولو اسانه کار بل چاته ګوته نیول دي.
❖ د خپل توان څخه زیات کار مه کوه، او مه دومره بې همته کېږه چې خپله سستي دې بل چاته محتاج کړي.
❖ د کبرجنو خلکو ملاقات ته ورتلل د ځان د عزت کمول دي.
❖ په کوم ځای کې چې ستا عزت نه کېږي، هلته مه ورځه، که څه هم هلته تاته د سرو زو په کاسو کې خوراک درکول کېږي.
❖ غوره کمال عبادت دی او غوره عبادت صدقه ده.



❖ څوک چې ډېرې خبرې کوي، ډېر به ملامتېږي هم.
❖ د مؤمن لپاره هغه ورځ اختر ده چې په دی، پکې د الله جل جلاله نافرماني ونه کړي.
❖ تر ټولو غوره دینداري ایمان درلودل دي.
❖ بد اخلاقي د وحشت او نفرت لامل ګرځي او دا لا علاجه مرض دی.
❖ د وېرې په وخت کې د حق خبره کول د ریښتیني ایمان نښه ده.
❖ تر ټولو غوره وخت هغه دی چې په لمانځه کې تېر شي.
❖ دروغجن انسان هېڅکله د لوړې درجې خاوند نه شي کېدای.
❖ لار ورکي ته لاره ښودل هم صدقه ده.
❖ واقعي دوست هغه دی چې په سخته کې ستا له حال څخه ځان خبر کړي.
❖ تکبر له هغه چا سره ښایي چې مرګ ورته نه راځي.

**د حسن رضي الله عنه ویناوې:**

❖ هغه څوک چې غواړي ستا ملګری شي، ته یې هم ملګری شه!.
❖ د ځان ستایل د ځان د هلاکت عامل دی.
❖ تر ټولو ښه کس هغه څوک دی چې انتقام اخیستلی شي، خو بیا هم بښنه کوي.
❖ عابد هغه څوک دی چې د الله جل جلاله په تقسیم راضي وي.

**د عایشې رضی الله عنها ویناوې**:

❖ د انسان په بدن کې د عزت او ذلت ذمه واره ژبه ده.
❖ حق پلوی به هېڅکله ذلیل نه شي، اګر که د نړۍ ټول خلک یې په خلاف ودرېږي.
❖ د میلمه په ویاړ ډېر مصرف کول په اسراف کې نه راځي.
❖ علم لویه خزانه ده.

ketabton.com - The Digital Library



# دویمه برخه

## د امامانو او عالِمانو ویناوې

### د امام ابوحنیفه رحمه الله ویناوې:

- ❖ په ټولو نېکیو کې لویه نیکي ایمان دی او په ټولو ګناهونو کې لویه ګناه کفر دی.
- ❖ له خلکو سره داسې کړنې کوه، لکه څنګه چې یې له خپل نفس سره کوې.
- ❖ له صبر، زغم او حوصلې سره ځان عادت کړئ!.
- ❖ که د ځمکې پر مخ عالِمان د الله جل جلاله دوستان نه شي، نو څوک به د الله جل جلاله دوستان شي؟!.
- ❖ څوک چې ستا بدي بیانوي، ته یې نیکي بیانوه.
- ❖ علم د هغه چا په زړه کې ځای نه نیسي څوک چې یې د دنیاوي غرض لپاره ترلاسه کوي.
- ❖ د بل چا د حقوقو په پوره کولو کې بیړه کوئ!.
- ❖ هر څه یو ښایست لري؛ د نیکۍ ښایست دادی چې ژر ترسره شي.
- ❖ له خلکو سره په ورین تندي مخ کیږئ او لویي مه کوئ!.

### د امام شافعي رحمه الله ویناوې:

- ❖ بې له ازموینې د چا په دوستۍ باور مه کوئ!.
- ❖ کله چې کارونه زیات شي، نو لومړی هغه وکړه چې مهم وي.
- ❖ د عالِمانو د ټولو علم سرمایه دوه شیان دي: د عقیدې سمون او ریښتینی خدمت.

### د امام مالک رحمه الله ویناوې:

- ❖ تواضع او عاجزي په جامو کې نه ده، بلکې عاجزې یوازې په دین کې ده.
- ❖ په هغه سیمه کې ژوند مه کوئ! چېرته چې حق نه عملي کېږي.
- ❖ ناپوه چې د چوپتیا په ګټه پوه شي؛ هوښیار بلل کېږي.
- ❖ خلک تل په علم پسې راځي؛ علم هېڅکله خلکو پسې نه ورځي.
- ❖ علم له ناداری او لوږې پرته نه ترلاسه کېږي.



### د امام احمد ابن حنبل رحمه الله ویناوې:

- ❖ څومره چې مال او شتمني کمه وي، حساب به یې هم کم وي.
- ❖ د ځوانۍ عمر داسې دی، لکه یو څه چې دې په جیب کې وي او درڅخه ورک شي.

### د لقمان حکیم رحمه الله ویناوې:

- ❖ د ناپوه انسان مقابله په خاموشۍ سره کوئ!.
- ❖ له بد ذاته خلکو د وفا تمه مه کوئ!.
- ❖ په کوم ځای کې چې خبرې کول سپین زر وي، خاموشي سره زر ده.
- ❖ هم د دنیا او هم د اخرت سړی اوسه.
- ❖ د دنیاوي ګټې په خاطر خپل عزت له لاسه مه ورکوئ!.
- ❖ له بد اخلاقۍ څخه دښمني پیدا کېږي.
- ❖ دا له مرګ هم سخت حالت دی؛ کله چې یو اصیل انسان کم اصل انسان ته محتاج شي.
- ❖ داسې کارونه مه کوئ! چې جاهلان ستاسو په وړاندې ګستاخي وکړي.
- ❖ له بد اخلاقۍ څخه دښمني پیداکېږي.

### د امام غزالي رحمه الله ویناوې:

- ❖ د انسان تر ټولو لویه فتحه دا ده چې په خپله خوله او زړه واک ولري.
- ❖ غوسه د انسانیت ډیوه مړه کوي.
- ❖ شونډې وتړئ، مټې راونغاړئ او لاس په کار شئ!.
- ❖ بد اخلاقي د باطني نجاست نښه ده.
- ❖ ځان هوښیار ګڼل ستره ناپوهې ده.
- ❖ تر ټولو بدتر دعوت هغه دی په کوم چې شتمن رابلل کیږي او مسکینان محروم پاتې کېږي.
- ❖ یو په بل پسې ملنډې وهل د دښمنۍ لامل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



❖ د سقوط له عواملو یو دا دی چې انسان خپلې ستړې وړتیاوې د وړو موخو لپاره قرباني کړي.

❖ سختې خبرې د وریښمو په څېر نرم زړه هم سختوي.

❖ د دوه کسانو حرص نه پوره کېږي: یو د طالب العلم او بل د طالب المال.

**د بایزید بسطامي رحمه الله ویناوې:**

❖ که په دېرش کلنۍ کې قوي او په څلوېښت کلنۍ کې هوښیار نه شوې، نو وروسته به هیڅکله نه شې.

❖ څوک چې په شمار نیکۍ کوي، په شمار اجر به ورکول کېږي.

❖ د یوه پوه قوت له زرو ناپوهانو ډېر دی.

❖ مینه دا ده چې خپله ډېره نیکي لږ وګڼې او د ملګري لږ نیکي ډېره وګڼې.

❖ که انسان جنت دومره غوښتی، لکه شتمني چې غواړي، نو دواړه به یې موندلې وای.

❖ که انسان له دوزخه دومره وېرېدی، لکه لوږې چې وېرېږي، نو له دواړ به خوندي وای.

**د جنید بغدادي رحمه الله ویناوې:**

❖ د نیکۍ بدل مه غواړئ، ځکه بدل یې الله جل جلاله ورکوي.

❖ له الله جل جلاله غفلت په اور کې له سوځېدو سخت دی.

❖ چا چې الله جل جلاله ونه پېژانده، هغه خوشحالي ونه موندله.

❖ توبه داده چې انسان ګناه پرېږدي.

❖ یوازې او یوازې د الله جل جلاله مینه تلپاتې ده.

**د ابراهیم بن ادهم رحمه الله ویناوې:**

❖ زیات خوب کول عمر بې برکته کوي.

❖ څوک چې په خېټه موړ وي، په عبادت کې به یې خوند نه وي.

**د امام حسن بصري رحمه الله ویناوې:**



❖ د دنیا محبت د ټولو ګناهونو سر دی.

❖ هغه څوک احمق دی، کله چې قوم ورپسې روان شي، نو لویي او کبر شروع کړي.

❖ دروغجن له هرڅه دمخه خپل ځان رسوا کوي.

❖ د خپلو ملګرو د عزت ساتنه غوره نیکې ده.

❖ که عالمان او پوهان نه وای، نو انسانان به د څارویو په رقم وای.

❖ دوه شیان هېڅکله نو یوځای کېږي؛ قناعت او حسد.

❖ دوه شیان هېڅکله نه جلا کېږي؛ حرص او حسد.

❖ ډېر ملګري پیدا کړه، ځکه د قیامت په ورځ به یو مؤمن د بل مؤمن شفاعت کوي.

❖ څومره چې د بنده هیلې ډېرېږي، هغومره یې اعمال خرابېږي.

❖ شکر ایستل اخیستل شوی نعمت بیرته راګرځوي.

❖ خلکو ته د خپل عمل په ذریعه نصیحت وکړه؛ نه د ژبې په ذریعه.

❖ د یو عبادت کوونکي لپاره تر دې ستر عبادت نه شته چې د الله تعالی له نافرمانۍ څخه ځان وژغوري.

❖ تقوادار او زاهد هغه دی چې هرڅوک له ځان لوړ او غوره وګڼي.

❖ چې د مور مخ ته کتل عبادت وي، نو احترام یې باید ولې ونه شي؟

**د مولانا جلال الدین بلخي رحمه الله ویناوې:**

❖ هیله لرل د سعادت د لارې پیل دی.

❖ د نېک کار کولو لیوالتیا او مینه د الله جل جلاله د عنایت او لورینې نښه ده.

❖ الله جل جلاله زموږ وجود د یو پاک او لوړ کار لپاره پیدا کړی؛ دغه ارزښتمن وجود په بې ارزښتو او سپکو کارونو بوخت مه ساتئ!.

❖ ړوندوالی د الله جل جلاله امتحان دی، خو جهل او ناپوهې د الله جل جلاله غضب او قهر دی.

ketabton.com - The Digital Library



❖ ژوند د الله جل جلاله امانت وګڼئ، کېدای شي ډېر ژر درڅخه واخیستل شي.

**د صلاح الدین ایوبي رحمه الله وېناوې:**

❖ د نا اهله او خود غرضه مشر له امله ټول قوم په سزا او تکلیف کې وي.

❖ د تخت او تاج نشه د انسان څخه څېرونکی ځناور جوړوي.

❖ که په هر سخت کار کې له الله تعالی څخه کومک وغواړې، هغه به یې درته اسانه کړي.

❖ له ازمویني او امتحان پرته په یو چا باور کول حماقت دی.

**د امام جعفر صادق رحمه الله وېناوې:**

❖ اسلام ټول ادب دی.

❖ هغه څوک چې حیاء ونه لري، ایمان هم نه لري.

❖ په توبه کې وروسته والی د نفس دوکه ده.



## درېیمه برخه

## د مختلفو عالمانو او پوهانو وېناوې

❖ د احساساتي خلکو دښمني او دوستي دوام نه لري.

**(سید قطب رحمه الله)**

❖ هوښیار انسان هېڅکله د خپل ملګري راز نه خپروي.

**(قطب الدین رحمه الله)**

❖ کله چې ته په کمزوري انسان لاس اوچتوې، نو دا په یاد ولره چې ستا رب له تا ډېر طاقتور دی.

**(عمر بن عبدالعزیز رحمه الله)**

❖ ټوله شپه عبادت کوونکی او د ورځې روژتي چې ژبه کنټرول نه کړي، د قیامت په ورځ به تش لاس ځي.

**(عمر بن عبدالعزیز رحمه الله)**

❖ ښایسته اخلاق دا دي چې نه کینه وکړې او نه غوسه.!

**(امام احمد رحمه الله)**

❖ مور، نه تسلیمېږو؛ کامیابېږو یا تر هغې جګړه کوو چې مړه شو.

**(عمر مختار رحمه الله)**

❖ غرور او تکبر یوه پرده چې خلک یې په خپلو کمزوریو باندې اچوي (خوروي).

**(علامه ذهبي رحمه الله)**

❖ د مؤمن د زړه د نرمۍ نښه دا ده چې د بل مؤمن د غم له امله داسې درد احساس کړي، لکه هغه غم چې ده ته رسېدلی وي.

**(ابن القیم رحمه الله)**

❖ دنیا او اخرت داسې دي، لکه: د یو سړي چې دوه ښځې وي؛ هره یوه چې راضي کوې هغه بله خپه کېږي.

**(وهب بن منبه رحمه الله)**

❖ خپلو خواهشاتو سره داسې مقابله وکړئ، لکه: څنګه چې یې له خپل دښمن سره کوئ!.

ketabton.com - The Digital Library



(مالک بن دينار رحمه الله)

❖ بې ځايه مصرف او بې ځايه خبرې د هلاکت اسباب دي.

(ابراهيم الخنعي)

❖ ژوندی جاهل مړ دی او مړ عالم ژوندی دی.

(جمال الدين افغاني)

❖ د کومې ورځې راهيسې چې پوه شوی يم چې غيبت يوازې غيبت کوونکي ته تاوان رسوي، بيا مې غيبت نه دی کړی.

(امام بخاري رحمه الله)

❖ تمه له ازاد انسان څخه غلام جوړوي.

(امام ترمذي رحمه الله)

❖ کبرجن انسان لږ مونځ کوي، يا يې ېبخي نه کوي، ځکه چې له ډېرو سجدو سره تکبر نه يوځای کېږي.

(امام القرطبي)

❖ له اخلاقو پرته ملت، له عقيدې پرته اخلاق او له پوهې پرته عقيده نشته.

(جمال الدين افغاني)

❖ نيک اخلاق کولی شي د مال، ښايست او مقام ځای ونيسي، خو هېڅ شی نه شي کولای د نېکو اخلاقو ځای ونيسي.

(حجازي رحمه الله)

❖ هغه ژبه لويه ګنهګاره ده چې پوهېږي او نه غږېږي.

(مولانا ازاد)

❖ قناعت لويه سرمايه ده.

(عبدالرحمن بابا)

❖ چا چې مشوره پرXښوده؛ هغه هلاک شو.

(اوزاعي رحمه الله)

❖ د خلکو د ګمراهۍ لوی سبب د هغوی عقلونه نه دي، بلکې د هغوی هوا او هوس دی.



(مصطفی السباعي)

❖ د واقعي اسلامي نظام د حاکميت لپاره د حقيقي انسانيت شتون شرط دی.

(شهيد استاد نعمان)

❖ چوکۍ مهمې نه دي؛ اهداف مهم دي.

(شهيد معلم اول ګل)

❖ د زړورتيا او بې زړه توب ترمنځ توپير يوه شيبه د زړه ثبات دی.

(مصطفی السباعي)

❖ انسان هغه وخت د خپل عمر په لنډوالي پوهېږي چې کله يې پای ته نږدې شي.

(مصطفی السباعي)

❖ دا چې تل د ځان په اړه خبرې کوې، دا د دې دليل دی چې په ځان اعتماد نه لرې.

(مصطفی السباعي)

❖ د دنيا د ټولو تعذيبونو څخه سخت ترين يې مرګ دی، خو د الله تعالی په لاره کې مرګ.

❖ يو ستر وياړ او سعادت دی چې الله تعالی يې په خپلو خاصو بنده ګانو لوروي.

(شهيد استاد نعمان)

❖ د خپلواکۍ پيل دا دی چې داسې يو عادت ونه لرې چې په تا حکومت وکړي.

(مصطفی السباعي)

❖ که غواړې چې يوازې له بې عيبه انسان سره ملګرتيا وکړې، نو په دې پوه شه چې د خپل ځان ملګری به هم نه شې.

(مصطفی السباعي)

❖ چا چې په تياره کې ژوند کړی وي، ناڅاپي رڼا يې سترګې بړبښوي.

(محمد خياباني)

❖ تر هغې د يو چا په ملګرتيا باور مه کوه، ترڅو چې په مشکلاتو او سختو حالاتو کې د ځان پر وړاندې د هغه عکس العمل ونه وينې.!

(مصطفی السباعي)

ketabton.com - The Digital Library



❖ له الله تعالی او محمد صلی الله علیه وسلم پرته بل هر محبوب د خپل یار لپاره درد سر دی.

**(مصطفی السباعي)**

❖ حق اخیستل کېږي؛ ورکول کېږي نه.!

**(سید جمال الدین افغان)**

❖ د خلکو له خوا په خپله ستاینه مه خوشحالېږه او په بدو خبرو یې پروا مه کوه.

**(فضیل بن عیاض رحمه الله)**

❖ عاجزي د علماوو له ښکاره اخلاقي ځانګړتیاوو څخه ده، که د هغوی تر منځ دې کوم مغرور او متکبر عالم ولید، نو پوه شه چې د خپل غرور په اندازه جاهل هم دی.

**(مصطفی السباعي)**

❖ غلامي د الله تعالی لوی لعنت دی.

**(علامه اقبال)**

❖ د عاجزۍ نښه دا ده چې د بریا پر مهال په ځان ونه وياړې.

**(مصطفی السباعي)**

❖ ناپوهه مه وژنئ؛ ناپوهي یې ووژنئ!.

**(سید جمال الدین افغان)**

❖ د صبر نښه دا ده چې خلکو ته شکایتونه ونه کړې!.

**(مصطفی السباعي)**

❖ جهاد ژوند دی، عزت دی ، رحمت دی او سر لوړې ده.

**(شهید عبدالله عزام)**

❖ همغسې چې نیک اخلاق د انسان په ډېرو بدیو پرده اچوي؛ ناوړه اخلاق هم په ډېرو نیکو پرده اچوي.

**(مصطفی السباعي)**

❖ ازادۍ او خپلواکۍ ته ځوک په تشو خبرو نه دي رسېدلي.

**(سید جمال الدین افغان)**

❖ هغه حاکم چې قوم د ځان غلام ګڼي، پايله یې هلاکت او تباهي ده.



**(طارق بن زیاد رحمه الله)**

❖ حسد کوونکي ته هېڅکله راحت نه شي حاصلېدای.

**(احنف بن قیس)**

❖ کوم قوم چې د فکر کولو څخه محروم شي؛ تباه کېږي.

**(علامه اقبال)**

❖ زه د ډېر علم پر ځای لږ ادب ته اړتیا لرم.

**(عبدالله ابن مبارک رحمه الله)**

❖ بې همته انسان ناکام وي او بې دینه انسان بې حیاء وي.

**(امام حسین رحمه الله)**

❖ که یو کس ستاسو ستاینه په داسې الفاظو سره بیانوله چې په تاسو کې نه وه، نو

❖ حتماً به ستاسو بدې هم په داسې الفاظو بیانوي چې په تاسو کې به نه وي.

**(وهب بن منبه رحمه الله)**

❖ که د ارامه اوسېدو هیله لرې، نو له حسد څخه لرې اوسه!.

**(شیخ فریدالدین)**

❖ د مینې په لحاظ هر پلار یعقوب علیه السلام دی او د ښایست له مخې هر زوی یوسف علیه السلام دی.

**(ابوعلي سینا)**

❖ ذکر کوونکې ژبه او شکر ایستونکی زړه دوه لوی دولتونه دي.

**(امام غزالي رحمه الله)**

❖ له خپل ملګري څخه د هغه عیبونه پټول خیانت دی او نورو ته یې ویل غیبت دی.

**(ابن زیدون)**

❖ صادقان شهرت نه خوښوي، که څه هم په حقه لاره وي.

**(شیخ عبدالعزیز)**

ketabton.com - The Digital Library



❖ پایلې ته نه رسېدل په دې معنا نه دي چې لاره غلطه ده، ځکه چې د لارې سوالی اړین دی، نه د هغې پای ته رسېدل؛ د قیامت په ورځ به داسې نبي هم وي چې یوازې یو پیرو به لري.

**(شیخ عبدالعزیز)**

❖ بعضې خلک له واورې څخه کور جوړوي او بیا شکایت کوي چې ویلی شو.

**(طبري رحمه الله)**

❖ مخلوق به هغومره له تا وېرېږي، څومره چې ته له الله جل جلاله څخه وېرېږې.

**(فضیل بن عیاض رحمه الله)**

❖ د لوړ فکر خاوندانو ته عزت له ژوند څخه هم ډېر ارزښت لري.

**(ابن عبد الرب)**

❖ علم د بدن د راحت سره نه شي ترلاسه کېدای.

**(یحیی بن ابي کثیر)**

❖ د انسان تر ټولو لویه بدبختې دا ده چې هغه ته د نیکۍکولو موقع برابره شي، خو نیکي ونه کړي.

**(ابوالفداء)**

❖ د جاهل عاجزي د عالِم له غرور څخه غوره ده.

**(ابن خلدون)**

❖ حسد انسان داسې خوري، لکه: اوسپنه چې زنګ خوري.

**(ابن الخطیب)**

❖ له بد ملګري یوازیتوب ښه دی او ښه ملګری بیا له یوازیتوب ښه دی.

**(جلال قزویني)**

پاچاهي (سلطنت) په عدل باندې آبادېږي، په تدبر مستحکمه پاتې کېږي او په شجاعت ترې حفاظت کېږي.

**(فخري)**

❖ په مؤقتي شیانو پورې زړه مه تړئ!

**(فخري)**



❖ مرغان په خپلو وزرونو سره الوتلی شي او انسان په خپل همت سره.

**(سیوطي رحمه الله)**

❖ د خاموشۍ او کمو خبرو نتیجه سلامتیا ده.

**(نظام الملک)**

❖ هېڅکله په خپله خاموشۍ نه یم پښېمانه شوی، خو په خپلو خبرو ډېر ځله پښېمان شوی یم.

**(ابو علي سینا)**

❖ په دې پوه شوم چې خبر او برکت په ساده مسلمانانو کې موندلی شو.

**(ګل پاچا الفت)**

❖ خپل عیبونه وګوره، تر څو د نورو عیبونو لټولو وخت درته پیدا نه شي.

**(جاحظ)**

❖ په ګناه نه پښېمانه کېدل یو ناعلاجه او خطرناک مرض دی.

**(ابن عربي)**

❖ د طاقت په نشه کې غورځېدل د کمزورۍ نښه ده.

**(ابن عبدالرب)**

❖ یوه ورځ د زمري په څېر ژوند کول د ګیدړ په شان د سلو کلونو له ژوند څخه غوره دي.

**(ټیپو سلطان)**

❖ ماښام په نهره ویده کېدل له دې غوره دي چې سهار له قرض سره راپاڅې.

**(فخري)**

❖ لوړ مقام به د هغه چا په برخه وي چې د شپې لخوا ډېر ژاړي او د ورځې یې په شونډو موسکا خپره وي.

**(امام ذهبي رحمه الله)**

❖ هغه کسان د زړه سوي وړ دي چې مشوره ورکوونکي یې ناپوهان وي.

**(سقراط)**

❖ شعور یعنې؛ د حق خبره منل که څه هم ته د هغه مخالف یې.

ketabton.com - The Digital Library



(ارسطو)

❖ که چا یو ځل خیانت درسره وکړ، دا د هغه غلطي ده خو که دویم ځل یې هم خیانت درسره وکړ، نو دا ستا غلطي ده.

(دالای لاما)

❖ په هغه چا هېڅکله باور مه کوه چې دروغ وايي او هغه چاته هېڅکله دروغ مه وایه څوک چې په تا باور لري.

(چارلي چاپلین)

❖ پست ترین انسان هغه دی چې د ملګرتیا د وخت رازونه د دوښمنۍ په وخت کې وايي.

(جبران خلیل)

❖ د ادب له مخې هر چاته ته غوږ کېږده، خو د احتیاط له مخې یې هرڅه مه منه.

(سقراط)

❖ پخوالی یعنې؛ کله چې د خلکو دویم مخ ووینې او تعجب ونه کړې.

(یوفسکی)

❖ که غواړې چې له مرګ وروسته هېر نه شې، یا داسې څه ولیکه چې د لوستلو وړ وي، یا داسې څه وکړه چې د لیکلو وړ وي.

(فرانکلین)

❖ له سلو نېکیو وروسته بدي وکړه؛ انسانان به ویېږني.

(چیګوارا)

❖ دوستان په بد وخت کې ازمایل کېږي.

(افلاطون)

❖ که خیانت درسره وشو، پوی شه چې ارزښت دې لوړ دی.

(چارلي چاپلین)

❖ هیلې هغه نه دي چې په خوب کې یې ووینې، بلکې هیلې هغه دي چې خوب ته دې نه پرېږدي، ترڅو چې پوره یې نه کړې!.

(رونالډو)



❖ یوه ټولنه هغه وخت نیکمرغي ترلاسه کولای شي چې د خلکو ورځنی کار یې مطالعه کول وي.

(سقراط)

❖ هغه راز چې له دښمنانو یې پټوې، له دوستانو یې هم پټ کړې!.

(فرانکلین)

❖ دا بهتره ده چې په ولاړه ومرې، له دې نه چې په ګونډو ژوند وکړې!.

(چیګوارا)

❖ که غواړې چې دوښمنان خپه کړې، له دوستانو سره ښګینه کوې!.

(چارلي چاپلین)

❖ په درې وختونو کې باید د درې شیانو کلک ساتوونکي اوسو:

په تنهایۍ کې د افکارو، په کورنۍ کې د اخلاقو او په ټولنه کې د ژبې.

(داستال)

❖ ما په هدیره کې د هغه کسانو قبرونه هم ولیدل چې د خپل حق لپاره په دې خاطر نه جنګېدل چې هسې نه ووژل شو.

(چیګوارا)

❖ دا ډېره ښه ده چې له خپلو غلطیو څخه درس واخلو، خو تر دې دا ډېره ښه ده چې د نورو له غلطیو درس واخلو.

(وارن بفټ)

❖ د یو انسان د مړي او ژوندي معلوملو لپاره د هغه ضمیر وګورئ نه د هغه نبض.

(چیګوارا)

❖ بېړۍ په ساحل کې خورا خوندي وي؛ خو ددې لپاره جوړې شوي نه دي.

(پاولو کویلو)

❖ که غواړې چې پر نړۍ حاکم شې نو لومړی عقل په ځان حاکم کړې!.

(تولستوی)

❖ چاته چې خپل رازونه بیانوو، په حقیقت کې هغوی ته دا ورښایو چې څنګه موږ ته زیان ورسوي.

ketabton.com - The Digital Library



**(چارلي چاپلين)**

❖ په کوم شي چې نه پوهیږې هغه مه وایه؛ کوم څه ته چې اړتیا نه لرې هغه مه لټوه او هغه لاره چې درته معلومه نه وي پر هغې مه ځه.!

**(سقراط)**

❖ یا چوپ اوسه، یا دې باید خبرې له چوپتیا ډېر ارزښت ولري.

**(فیثاغورث)**

❖ که څه مو په لاس رانه وړل، هېر یې کړئ او که یې د هېرولو توان نه لرئ بیا هڅه وکړئ چې په لاس یې راوړئ!.

**(شکسپیر)**

❖ تاسو به هېڅکله ښه سبا ونه لرئ که تاسو اوس هم د پرون په باره کې فکر کوئ.

**(بیل ګیټس)**

❖ په ډېرو وضاحتونو وخت له لاسه مه ورکوئ؛ خلک یوازې هغه څه اوري چې اورېدل یې غواړي.

**(پاولو کویلو)**

❖ د یو انسان لپاره تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې نه د خبرو کولو لپاره کافي پوهه لري او نه د چوپتیا لپاره کافي شعور.

**(دیکنز)**

❖ چا چې یو ځل خیانت درسره وکړ نو زر ځله یې هم درسره کوي؛ دا اړینه نه ده چې د سمندر ټولې اوبه د دې لپاره وڅښې چې مالګیني دي که نه.!

**(چیګوارا)**

❖ پلان لرونکی احمق بې پلانه هوښیار ماتولی شي.

**(وارن بفټ)**

❖ هوښیارتوب دا دی چې خبرې لنډې وشي؛ اوږدې خبرې انسان ستړی کوي.

**(شکسپیر)**

❖ څوک چې په لوړه څوکه ولاړ وي، له سیلۍ او توپان سره ډېر مخ کېږي.



**(شکسپیر)**

❖ هېڅوک دومره ښه حافظه نه لري چې کامیاب دروغجن شي.

**(لینکن)**

❖ د ملګري په ټاکلو کې احتیاط کوه؛ پرېښودو کې یې ډېر احتیاط کوه.

**(فرانکلین)**

❖ دا ډېره سخته ده چې کله درسره د چا کار ختم شي؛ چلند یې هم بدل شي.

**(میشل)**

❖ که یوه ورځ دې مقام ټیټ شو، نو خپه کېږه مه، ځکه لمر هره ورځ په دې نیت ډوبېږي چې سبا به بیا راخېژم.

**(افلاطون)**

❖ په کار کې تېروتنه غلطي نه ده، بلکې عبرت دی.

**(ویلسن)**

❖ تر ټولو نږدې مرګ او تر ټولو لرې هیله ده.

**(سقراط)**

❖ حقیقي ښکلا یوازې په طبیعت کې ده.

**(شکسپیر)**

❖ د بدن په غړو کې تر ټولو زیاته نافرمانه ژبه ده.

**(فیثاغورث)**

❖ هغوی چې واک په پیسو اخلي، عدالت هم په پیسو خرڅوي.

**(ناپیلون)**

❖ افسوس چې بوډا توانېدلی او ځوان پوهېدلی.!

**(اشتاین)**

❖ موسکا لګښت نه لري خو ګټه یې زیاته ده.

**(کارنګي)**

❖ مجبور یم چې سپورت وکړم، ګنې عقل مې ورستېږي.

**(تولستوی)**

❖ که کار کول زیار ګالل دي، خو اوزګارتیا فساد دی.

ketabton.com - The Digital Library



(جمهر)

❖ ډېرې او بې ګټې خبرې انسان کمزوری ښکاره کوي.

(ولويون)

❖ مهمه دا نه ده چې ښکلی شې؛ ښکلا دا ده چې مهم شې.

(نلسن منډېلا)

❖ د هغه څه په اړه چې ترې خبر نه يې؛ هېڅ هم مه وايه!.

(سقراط)

❖ د خلکو عيبونو ته پاملرنه زموږ لوی عيب دی.

(جبران خليل)

❖ له شکست څخه وېره شکست راولي.

(ناپيلون)

❖ دنيا همېش د عاقل په مرګ او د جاهل په ژوند اوښکې تويوي.

(افلاطون)

❖ د دوه شيانو حق لرم: ازادي او مرګ، که د لومړني څښتن نه شوم، دويم يې غواړم؛ ځکه چې هېڅوک ما ژوندی نه شي بندي کولی.

(چيګوارا)

❖ ناوړه انسان مړ کېږي خو شر يې پاتې کېږي.

(شکسپير)

❖ له کتاب سوځولو لوی جرم هم شته؛ کتاب نه لوستل.

(بردوسکي)

❖ لوی کارونه هميشه په لومړي سر کې ناشوني ښکاري.

(کارلايل)

❖ ليونی که هر څومره غښتلی وي، د شپنی وړ نه دی.

(جاتاکاس)

❖ د غوسې درمل خاموشي ده.

(سقراط)

❖ تل بايد واړه د لويانو د حماقت پور پرې کړي.



(دولوفانتن)

❖ تجربه د نرم کټ او پستو بالښتونو دپاسه نه ترلاسه کېږي.

(ارپيد)

❖ هر ښايسته شی ښه نه وي، خو هر ښه شی حتمًا ښايسته وي.

(کندي)

❖ بخيل د ګاونډي په چاغښت ډنګرېږي.

(سقراط)

❖ په خپله وړتيا باور درلودل نيم بری دی.

(روسو)

❖ لوړ همت او ټينګ هوډ ډېرې اوبه کوي.

(ستېنلي)

❖ د رهبری لومړی اصل دادی چې لويدلی ملت راپورته کړې، خو که ملت نه راپورته کېده، ته ورټيټ شه.!

(چيګوارا)

❖ يوازېنی شی چې په دنيا کې په انصاف وېشل شوی؛ عقل دی، ځکه هېڅوک نه وايي چې زما کم دی.

(ديکارت)

❖ هېڅ دروغجن شی ښکلی کېدلی نه شي.

(رسکن)

❖ سپيان لومړی ليوان ول، خو چې د تمې زنځير يې په غاړه کړ؛ سپيان شول.

(چيګوارا)

❖ جامې زړې واغونديء خو کتاب نوی واخليء!.

(فليفس)

❖ خطر منوونکی انسان تل لوی کارونه ترسره کوي.

(افلاطون)

❖ د تېروتنې نه جبران کول په خپله تېروتنه ده.

(کنفوسيوس)

ketabton.com - The Digital Library



❖ زمانه (وخت) منډې وهي او ته قدمونه وهې؛ څوک چې له زمانې سره منډې ونه وهي وروسته پاتې کېږي.

**(فیثاغورث)**

❖ خپل دښمنان وبښه، خو نومونه یې مه هېروه.

**(چارلي چاپلین)**

❖ د انسان زخمونه د هغه د باورونو په اندازه ژور وي.

**(ایلهان)**

❖ هېڅکله هغه چاته دروغ مه وایه څوک چې ستا په دروغو هم باور کوي.

**(شکسپیر)**

❖ که د چا شخصیت گورې نو ملگري یې وگوره.!

**(ارسطو)**

❖ بې وزلي په خیرات نه، بلکې په انصاف سره له منځه ځي.

**(نیلسن منډېلا)**

❖ که د یو هېواد خاین په خپل مرگ مړ شو، نو د هېواد له راتلونکې تمه نه ده پکار.!

**(چیگوارا)**



## څلورمه برخه

### هغه ویناوې چې د وینوالو په اړه یې دقیق معلومات په لاس کې نشته

❖ باد له خاموشۍ ډېوې سره کار نه لري.

❖ د نورو په کارونو کې لاس وهنه نه کول نیم ادب دی.

❖ مېړانه د بشر تر ټولو ستر صفت دی.

❖ که ته یو ښه انسان اوسې، ته څوک نه بایلې، بلکې دوی تا بایلي.

❖ داسې ملگري پیدا کړه چې د هغوی په مخ کې په گناه کولو وشرمېږې.

❖ بریالي خلک مختلف کارونه نه ترسره کوي، بلکې کارونه په مختلفه بڼه ترسره کوي.

❖ په زړونو کې اوسېدل زده کړئ؛ کورونو کې خو هر څوک اوسېږي.

❖ د مرگ لپاره تیاری هوښیارتوب دی.

❖ له غوره اخلاقو ښخه لوړ بل هېڅ شی نشته.

❖ ښه انسان هغه دی چې ښه کارونه ترسره کړي؛ بد خلک هم ښې خبرې کوي.

❖ خبرې کول اړتیا ده خو چوپتیا هنر دی.

❖ غوره ملگری هغه دی چې په لیدو یې تاته اللّٰه تعالی دریاد شي.

❖ ټول هغه خلک چې له تاسره خاندي ستا دوستان نه دي.

❖ هغه اوښکې چې موږ یې له ناکامۍ وروسته تویوو، هغه خولې دي چې موږ د کامیابۍ لپاره نه دي توی کړي.

❖ خلکو نه د دعاء غوښتلو پر ځای دا ښه ده چې داسې څه وکړو چې خلک خپله راته دعاء وکړي.

❖ کبرجن لکه مرغه؛ څومره چې پورته کېږي هومره د خلکو په نظرونو کې وړوکی ښکاري.

❖ که په مسجد کې مو د ماشومانو اوازونه وانهورېدل، نو له راتلونکي نسل څخه ووېرېږئ!.

ketabton.com - The Digital Library



❖ د یو چا اخلاق د هغه په غیاب کې تر هر چا ښه دفاع کوي.

❖ په دعا تجربه مه کوئ، بلکې داسې یې وغواړئ چې په قبلېدو یې باوري یئ!.

❖ د یو چا مجبوریت باید د هغه له کمزورۍ سره تعبیر نه شي.

❖ ځینې خبرې او دردونه په زړه کې پټ ښه وي؛ ییانول یې نور دردوي.

❖ غربي نړۍ د مسلمانانو دوه شیان نه شي زغملی: یو د ځوانانو دینداري او بل د ښځو عفت او پرده.

❖ د تاریخ په اوږدو کې واکمنانو تل هغه علماء ځورولي چې د باطل ملاتړ یې نه دی کړی.

❖ اخلاق لکه روزي داسې ویشل شوي؛ ځینې یې شتمن او ځینې یې فقیران دي.

❖ که انسان د ژوند پیل او پای هېر نه کړي، په منځنۍ مرحله کې نه گمراه کېږي.

❖ یوازینی څوک چې زه هڅه کوم ترې غوره شم، هغه د پرون زه یم.

❖ ادب د عطرو په څېر دی؛ که ته یې وکاروې نور خلک هم ترې خوند اخلي.

❖ ښکلا ډېر شرطونه لري چې یو یې موسکا ده.

❖ هغه امت به هېڅکله مات نه شي، د کوم چې مشر او قومندان محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم وي.

❖ پر قبرونو غوړېدلې چوپتیا په دې معنا نه ده چې ټول جنت ته تللي.

❖ ځینې خلک د ضلالت له وېرې په ضلالت کې ژوند تېروي.

❖ اسمان او ځمکه دواړه مې خوښ دي، ځکه په اسمان کې جنت او په ځمکه کې مې مور ده.

❖ ستا اخلاق ستا ادرس دی.

❖ انسان که غوسه وزغمي نو هر ډول حالا ت تر کنټرول لاندې راوستلی شي.

❖ ښښنه، مینه او عبادت باید په پټه ترسره شي.

❖ اعتماد د هرې اړیکې تر ټولو مهم شرط دی.

❖ د ځان بدلول زده کړئ؛ کال خو هر کال بدلیږي.



❖ هر انسان باید د خپلې ژبې ساتنه داسې وکړي، لکه: څنگه چې د خپلو جامو ساتنه کوي.

❖ هوښیار ته پکار ده چې له جاهل سره داسې چلند وکړي، لکه: ډاکټر چې یې له ناروغ سره کوي.

❖ غریب چې شتمن شي او شهوتونه کنټرول نه کړي، بیرته غریبېږي.

❖ تر ټولو گټور تجارت د الله تعالی یادول او تر ټولو تاواني تجارت د خلکو یادول دي.

❖ د شا له خوا خاین سپي نه مخامخ ځیرونکی زمری ښه دی.

❖ هغه انسانان چې خبرې او عمل یې یو ډول وي؛ زښته ډېر ښه ښکاري.

❖ حالات که هر څومره بد شي په ناشکرۍ نه ارزي، ځکه که حالات هر څومره بد شي، الله تعالی له هغې بدتر هم راوستی شي.

❖ ټول شیان له کتابه نه زده کېږي؛ ځینې له ژونده او ځینې یې له اړیکو څخه زده کېږي.

❖ یا د هغه ژوند لپاره کار وکړئ چې غواړئ یئ، یا هغه ژوند ومنئ چې کوئ یئ.!

❖ د چا چې عقل ناقص شي، فکر کوي، تر ټولو پیاوړی عقل لري.

❖ ډېر هوښیار او ډېر احمق دواړه یو شان دي؛ یو هم د بل خبره نه مني.

❖ انسان دې بې وسه وي، خو بې حسه دې نه وي.

❖ دوه کسانو سره احتیاط کوه: هغه غریب چې څو پیسې پیدا کړي او هغه جاهل چې څو کرښې ولولي.

❖ د خلکو خبرو ، لهجو او چلند ته دقیق اوسېدل مو طبیعت خرابوي؛ سر سري یې اورئ او مخته ځئ.!

❖ کوښښ کوه؛ یا هدف ته رسیږې یا هدف ته رسېدل زده کوې.!

❖ ډېر کوچني دروغ هم کولای شي ډېر لوی اعتماد ختم کړي.

ketabton.com - The Digital Library



❖ ولس منلی شخص هغه دی چې له ځوکۍ د لرې کېدو پر مهال پر خلکو داسې ګران وي، لکه: ځوکۍ ته د رسېدو پر مهال.

❖ ریا کار په تیاره کې د چا له سترګو ځخه ځځلی هم نه وباسي.

❖ د محنت او کوښښ نشه شروع کړئ چې د کامیابۍ مرض درته ولګېږي.

❖ چې باور کمزوری شي، له دروغو ورسته رېښتیا زر شاهدانو او دلایلو ته اړتیا لري.

❖ هر کار چې د بنده لپاره ډېر ګټور او الله تعالی ته ګران وي، شیطان د هغه کار زیات مخالفت کوي.

❖ د خیانت په اړه یوه خواشینونکې خبره دا ده چې د ملګري لخوا وي.

❖ که درې ورځې مطالعه ونه کړې، په څلورمه ورځ دې خبرې بې خونده کېږي.

❖ که دې یوه وړه غلطې وکړه، د کلي ټول احمقان به د نصیحت لپاره په قطار درته ولاړ وي.

❖ هغوی چې د ښو خلکو ملګرتیا او د ښو کتابونو مطالعه کوي، ښه انسانان ورته ویل کېږي.

❖ که خلکو دې په اهدافو پسې ونه خندل، نو پوه شه چې اهداف دې ډېر کوچني دي.

❖ مطالعه د ذهن لپاره دومره ضرور ده، لکه: د بدن لپاره ورزش.

❖ څوک چې دربانديې خپه کېږي، حق لري چې درته په غوسه هم شي.

❖ ستونزې ته طبیعي شکل ورکړئ؛ غر ترې مه جوړوئ!.

❖ موسیقي اورېدل انسان بې حیاء کوي.

❖ که څوک مو په ارزښت نه پوهېدل، نو ترې تېر شئ، ځکه چې ړندو ته الماس او ښیښه توپیر نه لري.

❖ وفا له کولف نه زده کړئ؛ ځان ماتولو ته ورکوي خو په بدله کیلې نه خلاصېږي.

❖ په ځان کې وړتیا پیدا کړه چې اړتیا درته پیدا شي.

❖ د شل کلونو تجربه په یو کال مطالعې سره ترلاسه کېدای شي.



❖ کله چې ژوند شاته کشولې نه خپه کېږه مه، ځکه غشی باید د مخکې تګ لپاره

❖ لومړی شاته کش شي.

❖ لاره یوه وه؛ موسی علیه السلام ترې تېر شو خو فرعون پې ډوب کړ؛ په لاره نه، په الله تعالی باور ولرئ!.

❖ هغه اړیکه مه پاله چې درناوی پکې هر وخت ستا له لوري وي.

❖ ژوند په تقدیر تېرېږي؛ چاپلوسي د هېچا مه کوئ!.

❖ وخت که هر ډول وي تېرېږي، خو ځینې انسانان او ځینې خبرې هېڅکله نه هېرېږي.

❖ متواضع او عاجز شاګرد به د زیات علم خاوند ګرځي؛ لکه: ټیټه ځمکه کې چې زیاتې اوبه جمعه کېږي.

❖ د خپلوۍ پالنې لپاره به کله ځان ړندوې، کله به یې کنوې او کله به یې ګونګی کوې.

❖ له ظالم ځخه بد انسان نشته، مګر هغه څوک چې د ظالم مرسته کوي.

❖ چاپلوس پټ دښمن دی.

❖ که غواړئ چې ټولنې ته تر ټولو غوره خدمت وکړئ؛ اولادونه مو ښه تربیه کړئ!.

❖ ټول بندیان ګنهګاران نه وي؛ کله کله یوسف هم بندیخانې ته لېږل کېږي.

❖ ځینې خطا کاران د ځینې نصیحت کوونکو د سختۍ له امله خطاکار پاتې کېږي.

❖ د وخت په تېرېدو سره د ځینو انسانانو اصلي څېرې څرګندېږي.

❖ انسان تل کوښښ کوي چې له مرګ ځخه ځان بچ کړي، حال دا چې په کوښښ کولو سره انسان له جهنم ځخه بچ کېږي خو نه له مرګ ځخه.!

❖ ځینې خلک ځکه پرېشانه دي چې هر څه له حده زیات او له وخته مخکې غواړي.

❖ د کورنۍ په شمول د هرې ټولنې مشر د امیل د مزي(تار) حیثیت لري، په هره اندازه چې تار قوي وي ټولنه به منظمه وي.

ketabton.com - The Digital Library



❖ د دین اصلي اصول پرېښودل، فرعي او جزوي مسايلو ته مخه کول د امت د اختلاف سبب ګرځي.

❖ د دوستانو او خپلوانو د زیاتېدلو کوښښ کوه؛ دښمنان دې په خپله کمېږي.

❖ ښه ملګری پیدا کول قسمت او ساتل یې هنر دی.

❖ غوره ملګری ښه دی چې ستاسو ارزښت له مادیاتو څخه لوړ وګڼي.

❖ له خلکو سره داسې چلند کوه چې تمه لرې خلک یې له تاسره وکړي.

❖ له باطني ښکلا پرته ظاهري ښکلا ارزښت نه لري.

❖ د بعضې خلکو د څېرو پر ځای دیوالونو ته کتل ډېر ښه دي.

❖ دوه شیان د الله تعالی غوره نعمتونه دي: په دنیا کې علم او په اخرت کې مغفرت.

❖ د غوسې او ډېرې خوشحالۍ په وخت کې پرېکړې مه کوئ!.

❖ مسلمان له غوره اخلاقو او حیاء څخه پېژند ل کېږي.

❖ رېښتینولي او پرهیزګاري نجات ورکوونکي دي.

❖ د ریاء او دوه مخي توب پایله رسوایي ده.

❖ له قدرت سره ښښنه او له شتمنۍ سره عاجزي لوړ صفتونه دي.

❖ بدن او خیالات دواړه پاک ساتئ!.

❖ روح او د خولې الفاظ هغه دوه شیان دي چې بېرته نه راګرځي.

❖ د ځان په ستایلو انسان سپکېږي.

❖ د ژوند یوه مهمه قاعده دا هم ده چې چا دې پروا نه کوله ، وربانديې بوج کېږه هم مه.!

❖ تر ټولو ستر ادب دادی چې انسان تر هر څه دمخه د خپل رب څخه حیاء ولري.

❖ که مو له یو چاسره ملګرتیا ختمه شوه، نو رازونه یې چېرته ښخ کړئ او ځای یې هېر کړئ!.

❖ ډېر صداقت انسان په ځینو اړیکو کې بې اهمیته کوي.



❖ په وخت خبرې او په وخت چوپتیا د عقل نښه ده.

❖ سل ځلې غوږ ونیسئ، زر ځلې فکر وکړئ او یو ځل خبرې وکړئ!.

❖ هغه تاوانونه د انسان هېڅکله نه هېرېږي چې د خپل صداقت له امله ورته پېښ شوي وي.

❖ که ستونزې او مصیبتونه نه وای، انسان به ډېر سرکښه او متکبر وای.

❖ د امکان تر وروستي حده پر خپله ماته پښه مزل وکړه، خو د چا پر اوږه لاس مه ږده.

❖ د استاد یا کتاب درس شاید هېر شي خو د ژوند درکړل شوی درس هېڅکله نه هېرېږي.

❖ زنده ګي هغه څه نه درکوي چې ته یې غواړې، بلکې هغه څه درکوي چې ته ورپسې کوښښ کوې.!

❖ د نورو له تجربو او تېروتنو څخه درس واخلئ، ځکه ژوندون دومره اوږد نه دی چې

❖ هر څه په خپله تجربه کړئ.!

❖ د هغه چا له خوا درکړل شوی درد نه هېرېږي چې ستا پرې درد نه وي پیرزو.!

❖ د پاکو خلکو ګناه دا ده چې دوی فکر کوي، ټول خلک د دوی په څېر پاک دي.

❖ تر ټولو خطرناک دروغجن هغه دی چې فکر کوي رېښتیا وایي.

❖ کله چې ضمیر مړ شي؛ هر څه ختم شي.

❖ چې ستا غم سپک ګڼي؛ هغوی پرېږده.!

❖ رېښتیني اوسئ؛ دروغو هر څه برباد کړي.!

❖ ستاسو نیمایي ښایست په الفاظو کې دی او پاتې یې په نورو ادابو کې.

❖ یوازې مؤذن زموږ د ګټې لپاره نارې وهي.

❖ چاته خیر نه رسول غلطي ده، خو یو چا سره د خیر رسولو ژمنه کول او بیا هم خیر نه رسول؛ زر غلطۍ دي.

ketabton.com - The Digital Library



❖ هوښیار چې خطا شي ؛ تاسف کوي او احمق چې خطا شي؛ فلسفه شروع کړي.

❖ ماشوم چې د لویانو پیزار پښو کړي، ګامونه یې نه ورسره پراخېږي، بلکې د تګ خنډ یې ګرځي.

❖ ژوند کې حتمًا له ستونزو سره مخامخ کېږو، خو چې ورته خپه شو؛ ستونزه مو دوه چنده کړه.!

❖ که خبرو ته دې څوک غوږ نه نیسي؛ نو ته داسې څوک یې چې هر څه په خوله درشي وایې یې.!

❖ که د احسان بدله نه شې ورکولی، نو هېڅکله یې مه هېروه.!

❖ که څوک له قران کریم لرې شو، د ژوند هرې سختۍ ته دې په انتظار شي.

❖ د عقل په ارزښت هغه وخت پوهېږې چې د جاهل د پوهولو کوښښ وکړې.

❖ که څوک ستا په خبرو کې دلچسپي نه لري، نو د اوریدلو تکلیف مه ورکوه.

❖ که بادونه تېزول، له بحر څخه د ارامښت تمه مه کوئ!.

❖ ستا د سبا ورځې بریا ستا د نن ورځې په عمل پورې تړلې ده.

❖ د اخرت په امتحان کې دویم چانس نه شته.!

❖ که غواړې خپلې موخې ته په خیر ورسیږې، نو هېچا ته خپل تګلورې مه ښایه.!

❖ د یو چا ښه مه هېروه؛ که لږ هم وي.

❖ کتابونه د ورقو بنډلونه نه دي، بلکې عقلونه دي چې په تاخچو کې ژوند کوي.

❖ که د مسلمان ورور خوښېدلو (تاواني کېدلو) خوشحاله کړې، نو په زړه کې دې مرض دی.

❖ کوم پلار چې د خپلو ماشومانو هره خبره مني، نو دا هم د هغوی په څېر ماشوم دی.

❖ انسان تر هغه وخته هوښیار نه دی، ترڅو چې خپل خواهشات قابو نه کړي.

❖ هېڅ یوه ایینه د یو انسان شکل دومره نه شي ښکاره کولی، لکه: د هغه خبرې.

❖ د الله تعالی د اولیاوو ستره نښه دا ده چې هغوی د هېچا زړه نه ماتوي.



❖ د څمکې په سر چې کوم عمل کوې د څمکې لاندې به یې حساب ورکوې.!

❖ نن هغه سبا دی چې ته یې پرون په اندیښنه کې وې.

❖ کله چې درته الله تعالی ووایي چې مه کوه؛ یعنې خپل ځانته دې زیان مه رسوه.

❖ ناشکره هغه کس دی چې مصیبتونه شماري او نعمتونه هېروي.

❖ ژبې ته دې اجازه مه ورکوه چې تر فکر مخکې روانه شي.

❖ یوازیني خلک چې د خپلو خدمتونو په مقابل کې د منني تمه نه لري؛ مور او پلار دي.

❖ حقیقت چې په هر څومره نرمه لهجه وویل شي، بیا هم تریخ لګېږي.

❖ بېشکه چې په بدو خلکو کې تر ټولو بد سړی بد عالم دی او په ښو خلکو کې تر ټولو ښه سړی ښه عالم دی.

❖ د تبر لاستي ته به څوک قناعت ورکړي چې ونه دې مور ده.

❖ هغه کارونه چې موږ یې د نورو خلکو له سترګو پټ کوو، هماغه زموږ اصلي شخصیت دی.

❖ دوه شیان تاسو تعریفوي چې تاسې څوک یاست: لومړی ستاسو صبر په وخت کې چې

❖ هېڅ شی هم نه لرئ او دویم ستاسو اخلاق په هغه وخت کې چې هر څه ولرئ!.

❖ یو بل ته خیر ورسوئ؛ همدا د اسلام غوښتنه او د ریښتیني مسلمان نښه ده.

❖ دنیا لکه هیلې او امیدونه؛ یوه ورځ به له منځه ځي او یوازې به اعمال پاتې کېږي.

❖ د ژوند په معادله کې هېڅکله تبر له راتلونکي سره مساوي نه دی.

❖ که په هغه سرعت خبرې وکړو، په کوم سرعت چې لمونځ وایو، نو هېڅوک به مو

❖ په خبرو پوی نه شي.

❖ ژوند سخت دی، خو په نړۍ کې یوازینی ته نه یې چې ستونزې لرې.!

ketabton.com - The Digital Library



❖ ډېره سخته وي ، کله چې دې زړه د هغو شپو ورځو ارمان وکړي چې هېڅکله بېرته نهٔ راګرځي.

❖ شاوخوا وګرځه او وګوره چې ستا ستونزې څومره کوچنۍ او عادي دي.!

❖ پوهان اړيکي بايلي، خو ناپوهان په اړيکو کې ځانونه بايلي.!

❖ ډېر کم خلک لهه ضرورت پرته اړيکه پالي.!

❖ ښه خبره که د بد سړي له خولې راووته بيا يې هم ومنه، ځکه سره زر د بدرنګې ښځې پر غاړه هم خپل ارزښت له لاسه نه ورکوي.

❖ کله کله وړې خبرې او بدګومانۍ لوې لوې فاصلې رامنځته کوي او هر څه ته د پای ټکی ږدي.

❖ دا د الله جل جلاله قانون دی چې هره دنياوي او اخروي بريا به له ستړيا، هلو ځلو او ستونزو ګاللو وروسته تر لاسه کېږي.

❖ هر څوک کولای شي، تا وخندوي خو هر څوک تا نهه شي خوشحاله کولای.

❖ که خلکو يا بوټونو تاته درد درورساوه نو پوی شه چې درسره برابر نه دي.

❖ لوی خلک د لويو موضوعاتو په اړه غږېږي؛ معمولي خلک د معمولي شيانو په اړه او واړه خلک د نورو په اړه غږېږي.

❖ د خپګان يو لوی لامل دا هم دی چې هر څه ته متوجه اوسې.

❖ تر ټولو ډېر خوند د هغه شيانو په کولو کې دی چې نور وايي ته يې نه شې کولای.

❖ د مسلمانانو اوسنی وضيعت داسې دی، که خدای مه کړه، کعبه هم ورانه شي، له درې ورځني ماتم پرته به هېڅ هم ونه کړي.

❖ که هر چا د خپلې پوهې په اندازه خبرې کولای، نو څه عجيبه خاموشي به خپره وه.!

❖ ژوند د دقيقو او ثانيو ترکيب دی.!



❖ د ملګري مثال د چترۍ دی، هم به دې له بارانه وساتي او هم به دې وهڅوي چې ان د باران له څاڅکو هم خوند واخلې.

❖ دا نيکي نه ده چې هغه څه راکړې چې له تا زياته ورته اړتيا لرم، بلکې نيکې دا ده چې هغه څه راکړې چې ته له ما ډېر ورته اړتيا ولرې.

❖ نه پوهېدلی اسانه پوهېږي، خو ناسم پوهېدلی ډېر په ګرانه پوهېږي، هغوی چې ناسم پوهېدلي، اول به ورته دا ثابتوې چې ته ناسم پوهېدلی يې او تر دې وروسته به يې بيا سم پوهوې.

❖ ستا حقيقي مقام او حيثيت هغه دی چې ستا په نشتون کې يې خلک ستا په اړه وايي.

❖ هغه کس چې په اوښکو دې پوهېږي، تر هغو ګڼو ملګرو ښه دی چې يوازې دې په خندا پوهېږي.

❖ بحثونه ځکه غځېږي چې يوه خوا سرتمبه وي؛ پرېږدي يې نه او بله خوا مغروره وي؛ بښنه نه غواړي.

❖ هغه ټول مسايل هېر کړه چې ولې يو کار نه کېږي؛ هغه يو دليل وکاروه چې يو کار پرې کېږي.

❖ تر ټولو سختې او بدې ورځې هم يوازې **۲۴** ساعته اوږدې وي؛ هر څه تېرېږي.

❖ ښه رهبر د ځان غوندې ډېر رهبران جوړوي؛ نه ډېر پلويان.

❖ ريښتيا لکه: لمر؛ هر ځای ځلېږي او هر ځای شته، خو څوک مخامخ نه شي ورته کتلی او نه هم ويلی شي چې سم يې وليد.

❖ تر هغې چې د ستونزو په شته والي قانع نه شئ او وېې نه منئ، حل يې ناممکن دی.

❖ د ننۍ ټولنې ستونزه داده چې خبرې د پوهېدلو لپاره نه، بلکې د ځواب ورکولو لپاره اوري.

ketabton.com - The Digital Library



❖ هره ورځ داسې تېره وه، لکه: د ژوند وروستۍ ورځ چې دې وي؛ تېرې ورځې تېرې شوې او د سبا ضمانت نشته.

❖ ضرور نه ده چې د انسانه هره هيله ترسره شي؛ مهمه دا ده چې انسان هڅه وکړي او باوري وي چې په ناکامۍ کې يې خپل لاس ډېر رول نه لاره.!

❖ ښېنه غوښتل د ماتې معنا نه لري، بلکې د يوې تېروتنې منل او د يوه زړه ساتل وي.

❖ ککرۍ به خاورې شي خو زېږولی فکر به يې ژوندی وي.

❖ خوشحاله خلک تر نورو ښه شيان نه لري، بلکې خپل هر څه ته د ښه شي په سترګه ګوري او له ژونده خوند اخلي.

❖ لومې که ښکلې نه وای؛ څوک به نه پکې ګېرېدل.

❖ هغه انسان ناکام دی چې خپله تېروتنه مهمه نه بولي.

❖ ځينې د وچ کاغذ په څېر وي؛ په يوه شېبه کې اور واخلي، لا پرې تود شوی نه يې چې تري تم شي.

❖ څه چې تاته ښه ښکاري بل ته ښايي ښه نه ښکاري؛ په وچ زور خپله خوښه په چا مه تپئ!.

❖ په پيسو کور اخيستی شې؛ کورنۍ نه. په پيسو ساعت اخيستی شې؛ وخت نه.!

❖ له بدو خلکو سره د مرستې پايله دا شي چې انسان بيا له ښو خلکو سره هم مرستې ته غاړه نه ږدي.

❖ بې شخصيته انسان هڅه کوي ځانته کاذب شخصيت جوړ کړي.

❖ درې شيان نه پټېږي: لمر، سپوږمۍ او رېښتيا

❖ د هر چا ملګری د هېچا ملګری هم نه دی.

❖ خلک بدلېږي، خو خاطرې يې نه بدلېږي؛ ځکه خو خاطرې خوږې وي.

❖ ډېرو خپګانونو دليل له مقابل لوري په بې ځايه هيلو کې نغښتی.

❖ په ژوند کې تر څه لرم څوک لرم ډېر مهم دي.



❖ که دې د يو احمق ځواب درلود او وردې نه کړ؛ تا وګټله.!

❖ انسان د عمر په اندازه نه بلکې د خپلو غمونو په اندازه زړېږي.

❖ هغه وخت ښه ورځ نه شئ ليدلی چې په زړه کې مو کرکې ځای نيولی وي.

❖ د بل په کار کې کار لرونکی تل هېروي چې خپله په خپلو کارونو کې د بل مداخله نه غواړي.

❖ تر هغې چې رېښتيا بوټ په پښو کوي، درواغو د نيمې نړۍ چکر وهلی وي.

❖ موږ له تاريخه دا زده کوو چې موږ له تاريخه هېڅ نه زده کوو.

❖ له هغه خلکو لرې ګرځه چې ګړنګ ته دې پورې وهي او بيا دې پوښتي چې څنګه ولوېدې؟

❖ له خبرو وړاندې فکر او له فکر وړاندې کتابونه ولوله.!

❖ ځينې وخت تم شه او فکر وکړه چې څه يې؟ ولې راغلی يې؟ او چېرې به ځې؟

ketabton.com - The Digital Library



## پنځمه برخه

## د پښتو ژبې مشهور متلونه

- ❖ ایینه(هنداره) د چا عیب نه پټوي.
- ❖ اس خپل سپور ډېر ښه پېژني.
- ❖ اسمان په کاڼو مه وله؛ خپل سر به مات کړې.
- ❖ اتفاق ته غرونه څه دي.
- ❖ اباسین چې په کاسو شي هم وچېږي.
- ❖ ارزان بې علت نه وي او گران بې حکمت.
- ❖ اسانه کلمه په هندو گرانه.
- ❖ اصیل به جفا ونه کړي او کم اصل به وفا.
- ❖ اغزی له اولې ورځې نه تېره وي.
- ❖ (الف) که څه نه لري؛ د (ب) دې څه لښکرې ولیدې.!
- ❖ الوتی مرغه په لاس نه راځي.
- ❖ امانت څمکه هم نه خیانتوي.
- ❖ انتقاد اسانه؛ ابتکار سخت.
- ❖ انسان تابع د احسان دی.
- ❖ انسان تر کاڼي کلک؛ له گل نازک دی.
- ❖ انسان زړېږي؛ حرص یې ځوانېـږي.
- ❖ انسان له خطا سره ملگری دی.
- ❖ انسان یوه ورځ پیدا دی او یوه ورځ به مري.
- ❖ انگورو ته یې لاس نه رسېده، ویل یې تروشه دي.
- ❖ اوبه او اور نه یوځای کېږي.
- ❖ اوبه تل ښکته رواني وي.
- ❖ اوبه په ډانگ نه بیلېږي.



- ❖ اوبه د شگو په بند نه بندېږي.
- ❖ اوبه له پاسه خړې دي.
- ❖ اوبو په غاړه اوبه غواړه.!
- ❖ اور په اور نه مړ کېږي.
- ❖ اور ته خپل او پردی یو دی.
- ❖ اوربشې که د روپۍ سل منه شي؛ د خره پکې یوه لپه ده.
- ❖ اول یې پړ کړه، بیا یې مړ کړه.
- ❖ اول سلام؛ پسې کلام.
- ❖ اول سوچ کړه بیا خبره.
- ❖ اول ځان دی بیا جهان.
- ❖ اول کوه احتیاط؛ وروسته مه کوه فریاد.
- ❖ اوړه یې یو موټی نشته؛ شل یې تنورونه دي.
- ❖ هوگه چې ونه خورې، له خولې دې بوی نه ځي.
- ❖ اوښ په بډه نه وهل کېږي.
- ❖ اوښ ته رباب مه وهه!
- ❖ اوښ په غلبیل نه درنېږي.
- ❖ باز خانه بې بازه نه وي.
- ❖ باز چې هرڅومره خوار شي؛ چونگښې نه خوري.
- ❖ بد بوټی بلا نه وهي.
- ❖ بد زوی؛ نه زوی.
- ❖ بد مه کوه؛ بد به نه وینې.
- ❖ برج دې تر اسمانه رسي؛ سپی دې له لوړې مري.
- ❖ بې زحمته راحت نشته.
- ❖ بل مه وهه په نوک؛ تا به ووهي په سوک.

ketabton.com - The Digital Library



❖ بلا وه، برکت يې نه و.
❖ بې ميوې ونه څوک په کاڼو نه ولي.
❖ تاج په هر سر برابر دی خو هر سر د تاج د لايق نه دی.
❖ تهداب چې له بېخه کوږ وي، نو تر اخره کوږ وي.
❖ تجربه بهترين معلم دی.
❖ تر بې غيرته نر غيرتي ښځه ښه ده.
❖ تر تبر يې لاستی دروند دی.
❖ ترخه خوره خو ترخه مه وايه!
❖ تشه لاسه ته مې دښمن يې.
❖ تېره چې په خپل ځای پرته وي نو درنده وي.
❖ تږی اوبه په خوب ويني.
❖ توره که تېره وي په گوزار به څرگنده شي.
❖ جنگ په وسله، ننگ په غله.
❖ د جنگ په ميدان کې آسونه نه تيارېږي.
❖ حساب به کوو د وروی ترمنځ.
❖ حلق(ستونی) په خپلو لاړو لوند وي.
❖ حياء دار حيا کوله، بې حيا وويل له ما ډارېږي.
❖ خبره له خبرې پيدا کېږي.
❖ خبره د خپلې خولې په اندازه کوه.
❖ خبرې لږ کوه، عمل ډېر.
❖ خپل عمل د لارې مل دی.
❖ خدايه لوی مې کړې؛ لويي را مه کړې.
❖ خدای شړلی نه سمبېږي.
❖ د باران نه پټېدمه، د ناوې لاندې مې شپه شوه.



❖ د باز عمر لنډ وي.
❖ د خپل همت او خواری ثمره خوږه وي.
❖ د بخيل قبر تنگ وي.
❖ د بدبخته سړي د اختر په ورځ په خېټه درد وي.
❖ د بدې خبرې سل کاله عمر وي.
❖ د بل غم تر واورې سوړ وي.
❖ د بل حياء د ځان حياء.
❖ د بل په ايمان سړی جنت ته نه ځي.
❖ د بل په لاس مار هم مه وژنه.
❖ د بدبخته انسان غاښ به په حلوا کې ماتېږي.
❖ د بې عقلی علاج نشته.
❖ د جومات سړی په جومات کې لټوه.
❖ د جنگ خبرې خوږې خو ساعت يې تريخ دی.
❖ د خوار ملا په اذان څوک روژه نه ماتوي.
❖ د خوشحالی ياران ډېر وي.
❖ د خپل بام واوره د بل په بام مه اچوه.
❖ د خپل کور غل نه نيول کېږي.
❖ د درواغو مزل لنډ وي.
❖ د دوه پيسو شادي د سل پيسو رنځير يوړ.
❖ د زرو قدر له زرگر سره وي.
❖ د زمرو کور بې له زمرو نه وي.
❖ د سبا مړي سبا خښوه.
❖ د ستنې له سوري چا بار نه دی ويستلی.
❖ د سر دپاسه سر شته.

ketabton.com - The Digital Library



❖ د سل بللو ځای وي خو د يو نابللي ځای نه وي.

❖ د سوال په اوبو ژرنده نه گرځي.

❖ د سيند مړي چا گټلي نه دي.

❖ د سپي په خوله درياب نه چټلېږي.

❖ د سړي لپاره يوه خبره کافي ده.

❖ د شيدو سوی مستې هم پو کوي.

❖ د شپې هرڅوک ډارېږي، څوک حال وايي څوک يې نه وايي.

❖ د صبر ميوه خوږه وي.

❖ د ظلم چراغ تر سهاره نه بلېږي.

❖ د ظلم کاسه نسکوره وي.

❖ د غريب سړي د خيرات په ورځ غوا ورکه وي.

❖ د کور گټه د لاهور گټه.

❖ د لاس تناکې ملغلرې دي.

❖ د لمدو ختو لړ اوبه دارو وي.

❖ د نوي منگي اوبه خوږې وي.

❖ د هيلۍ بچو ته لامبو مه ورښايه.

❖ راتگ په اراده او بيرته تگ په اجازه.

❖ روغ صحت باچاهي ده.

❖ رېښتيا چې راځي، دروغو به کلي وران کړي وي.

❖ زما زويه تر ما لويه!

❖ زمری که په پنجره کې هم وي زمری دی.

❖ زه او ته راضي، څه به وکړي خوار قاضي.

❖ زه خان ته گورم خان آسمان ته گوري.

❖ زه دې باغ نه وينم ته وايې منې دغه دي.



❖ زه په تمه، ته بېغمه!

❖ سر په وينښتو نه درنېږي.

❖ سر چې ژوندی وي خولۍ ډېرې.

❖ سمندر په يوه لپه نه کمېږي.

❖ سيالي د سيال سړي په کار ده.

❖ سپين غر بې واورې نه وي.

❖ سپين نيت، لوی دولت.

❖ شی شی نه يې، نوم دې فتح خان دی.

❖ سبا بيا خدای شته.

❖ صدقه رد بلا ده.

❖ عزت کوه عزت به دې کېږي.

❖ عقل په پيسو نه اخيستل کېږي.

❖ غاښ چې رنځور شي علاج يې امبور شي.

❖ غر که لوړ دی هم په سر يې لار شته.

❖ فلانی لکه خښته، شپږ مخه لري.

❖ فن د چا ميراث نه دی.

❖ قرض ورکول يو هنر، اخيستل يې بل هنر.

❖ قصابان چې ډېر شي غوا مردارېږي.

❖ قناعت لويه سرمايه ده.

❖ لاس چې مات شي غاړې ته لوېږي.

❖ لار په مزل لنډېږي.

❖ لامبو په ږيره نه ده.

❖ لمر په دوه گوتو نه پټيږي.

❖ لمونځ تر قضا دمخه، خيرات تر بلا دمخه.

ketabton.com - The Digital Library



- ❖ له جنګه زه راغلم خبرې يې ته کوې.
- ❖ له خپلې برستنې سره پښې غځوه.
- ❖ له يو لاس څخه ټک نه خيژي.
- ❖ ليوه ته چې نصيحت وکړې، په هغه ورځ دوه خوري.
- ❖ مال دې لاړ شي، سر دې لاړ شي خو پت دې نه ځي.
- ❖ مرغان دانه ويني، لومه نه ويني.
- ❖ مرغۍ چې له سيله بيله شي، باد يې وړي.
- ❖ منګی يو ځل ماتيږي.
- ❖ مستې هم خرڅوې، مخ هم پټوې.
- ❖ نا بلده غل غوجل ته ننوځي.
- ❖ ننګيالي دې چې يادېږي.
- ❖ نوی نوکر هوسۍ په منډه نيسي.
- ❖ هر چاته خپل وطن کشمير دی.
- ❖ هيڅ ګل بې له اغزيو نه دی.
- ❖ هندو ستړی، خدای ناراضه.
- ❖ هغه دروغ مه وايه چې سبا رښتيا کېږي.
- ❖ هر کلال وايي زه ښه منګی جوړوم.
- ❖ وخت لکه سره زر دی.
- ❖ ونه له خپل منځه ورستېږي.
- ❖ چې اوبه وي تيمم ته څه ضرورت دی.



## شپږمه برخه

## نړيوال متلونه

- ❖ ګيدړه چې وږې شي؛ سوی سره ملګرتيا ختمه کړي.

**(الماني متل)**

- ❖ يوه ثانيه وخت په يو اينچ طلا نه شې اخيستلی.

**(چينايي متل)**

- ❖ که اوږد ژوند دې په لاس کې نه دی؛ له معنا ډک ژوند خو دې په لاس کې دی.

**(ايټالوي متل)**

- ❖ دا د فطرت پريکړه ده چې باد د کيښتيو په خوښه نه چلېږي.

**(افريقايي متل)**

- ❖ کله چې ډېر سپي يو ځای ووينئ، پوه شئ چې زمری يې ښکار کړی دی.

**(چينايي متل)**

- ❖ له حقيقت ويلو مخکې دې بوټونه پيدا کړه او تخرګ کې يې ونيسه.!

**(افريقايي متل)**

- ❖ ښايسته فرش بوينه ځمکه نه شي پټولی.

**(فرانسوي متل)**

- ❖ هوډ د کمزوريو تر ټولو ستره وسله ده.

**(افريقايي متل)**

- ❖ که د ټول عمر خوښي غواړې نو نيکې وکړه.

**(چينايي متل)**

- ❖ سپين ويښتان د عمر د زياتيدو نښه ده؛ نه د عقل د زياتېدو.

**(يوناني متل)**

- ❖ چې لکړه مې په لاس کې وي، په خوله چې هر څه وايم حق دي.

**(افريقايي متل)**

- ❖ پردۍ تېروتنه له خپلې تېروتنې څخه ډېره ځلېږي.

**(روسي متل)**

ketabton.com - The Digital Library



❖ پر اوزې يې زيرى وکړ چې قصاب مړ شو، دې پوښتنه وکړه چې چاړه يې هم مړه شوه؟

(افريقايي متل)

❖ ميلمه لومړى سره زر وي ، بيا سپين زر او وروسته ترې اوسپنه جوړه شي.

(روسي متل)

❖ که رمه اتفاق وکړي، ليوان به وږي ويده شي.

(کينايي متل)

❖ راتلونکي ته خوشبين اوسه، خو چمتوالى د سختۍ لپاره کوه.

(جاپانى متل)

❖ مړو پيشوګانو ته موږکان هم نصيحتونه کوي.

(الماني متل)

❖ احمق چرګ په دې باور دى چې که بانګ (اذان) ونه کړي؛ سهار به را نه خېژي.

(افريقايي متل)

❖ تشويق نيمايي مرسته ده.

(ايټالوي متل)

❖ ودانه خېمه تر کنډوالې ودانۍ ښه ده.

(جاپانى متل)

❖ که چا له شانه په لغته ووهلې، نو پوى شه چې ته مخکې يې.

(فرانسوي متل)

❖ مينه او عطر نه پټېږي.

(چينايي متل)

❖ يو ريښتين بې عقل، له سلو دروغجنو هوښيارانو ښخه غوره دى.

(چينايي متل)

❖ تر اووه کاله پلټنې وروسته په يوې خبرې باور کوه.

(جاپانى متل)



❖ ژړا اړتيا ده خو چاره (حل لاره) نه ده.

(چينايي متل)

❖ د شپېلۍ اواز ځکه اوچت وي چې منځ يې تش وي.

(ترکي متل)

❖ د شتمن سړي ټوکه خندونکي وي.

(ايټالوي متل)

❖ د زنځير قوت په کمزورې کړۍ کې وي.

(کاناډايي متل)

❖ له ملګرو پرته انسان د بې ګوتو لاس په څېر وي.

(انګليسي متل)

❖ څوک چې د مچيو ځاله ورانوي، منډه يې بايد زده وي.

(سينګالي متل)

❖ ځينې خلک د بار په اوچتولو کې په دې خاطر مرسته کوي چې د بار اندازه او وزن معلوم کړي.

(افريقايي متل)

❖ که ته تنها منډې وهې نو څوک به درنه مخکې شي؟

(روسي متل)

❖ ماهي مه راکوه، د ښکار چل يې راوښايه.!

(چينايي متل)

❖ پر ځمکه ناست کس له رالويدلو نه ډارېږي.

(روسي متل)

❖ د نوکر له خولې د بادار صفتونه مه منه!

(روسي متل)

❖ څومره چې خبرې لږ کوې، هومره دې خبرو ته ښه غوږ نيسې.

(جرمنى متل)

❖ بندې خولې ته مچ نه ننوځي.

(چينايي متل)

ketabton.com - The Digital Library



❖ حقیقت لکه سهار؛ هرو مرو راخېژي.

(یوناني متل)

❖ بې زخمونو قهرمان نشته!.

(پرتګالي متل)

❖ روغتیا د هګۍ په څېر ده، که یې ونه ساتې ماتیږي.

(مراکشي متل)

❖ څوک چې بې ضرورته شیان اخلي، له خپله ځانه غلا کوي.

(سویډني متل)

❖ شات د خرو خوراک نه دی.

(هسپانوي متل)

❖ پردي ګلان ښه ښکاري.

(جاپاني متل)

❖ د ګران بچي نومونه ډېر وي.

(افریقایي متل)

❖ خر د اسانو په ځغاسته کې برخه نه شي اخیستی، خو په ناکام اس پورې خاندي.

(یوناني متل)

❖ چې له باطل څخه ګټه اخلي؛ حقه وینا ورته سخته وي.

(روسي متل)

❖ له هغه سړي منډې وهه چې یو کتاب یې لوستی وي.

(روسي متل)

❖ کوم سپی چې په دوه چرګو پسې ځغلي؛ کور ته به وږی ستنیږي.

(افریقایي متل)

❖ ناشکره سره ښېګڼه ؛ لکه: بحر کې عطر شېندل.

(پولنډي متل)

❖ که د ټیټ سړي دې اوږد سیوری ولید، پوه شه چې لمر په ډوبېدو دی.

(هسپانوي متل)

❖ چې ګیدړې وعظ (نصیحت) شروع کړ؛ چرګه دې ورکه وبوله.



(پولنډي متل)

❖ د ښه ملګري د کور لاره هېڅ وخت هم اوږده نه وي.

(ډنمارکي متل)

❖ په هغه طرف غشی مه خوشې کوه چې بیرته ستا په طرف راګرځي.

(کردي متل)

❖ د حال (جاري) وخت په څېر ښه وخت نه پیدا کېږي.

(انګلیسي متل)

❖ وخت وزرونه لري.

(انګلیسي متل)

❖ مخکې له دې چې تږي شئ ، ځان ته کوهي وکېندئ!.

(چینایي متل)

❖ دردونه درڅخه هوښیار شخص جوړوي.

(سویډني متل)

❖ د کتابونو لوستل له زړه غمونه کموي.

(مراکشي متل)

پای

ketabton.com - The Digital Library

## د موضوعاتو لړلیک

**موضوع** **مخ**

لومړۍ برخه:د صحابه وو رضي الله عنهم ويناوې .................................... ۱
دويمه برخه:د امامانو او عالِمانو ويناوې .......................................... ۷
درېيمه برخه:د مختلفو عالمانو او پوهانو ويناوې.................................... ۱۲
څلورمه برخه:هغه ويناوې چې د وينوالو په اړه يې دقيق معلومات په لاس کې نشته ..... ۲۶
پنځمه برخه:د پښتو ژبې مشهور متلونه ........................................... ۳۹
شپږمه برخه:نړيوال متلونه ....................................................... ٤٦

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*